**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د لیبرال تر قوانیو لاندې د ښځې او نر د برابرۍ پر بنسټ لاسته راغلو شواهدو ډېرېدل**

**(ژباړه)**



د ۲۰۱۸ م کال د نومبر او ډیسمبر په میاشتو کې مهمې څېړنې شوې چې د ښځو د حقونو پرمختګ پر بنسټ عقیده او د لیبرال ډیموکراتو ارزښتونو تر چتر لاندې د ښځو او نرانو برابرۍ له ګواښ سره مخ کوي. لورا جونز د خپلو مطالعو یوه سروې د «ولې تاسو داسې فکر کوئ چې ښځې له لږ قدرت څخه برخمنې دي» د ښځو نړیوالې موسیسې ته وړاندې کړه. نوموړې د خپلو دغو مطالعو په ترڅ کې د ښځو د قدرت درلودو ادعا ـ هغه څه ته په کتو ـ د پوښتنې وړ بللې چې هغوی ته ورکول کېږي. لیکوال پر دې عقیده دی چې که څه هم هره ورځ په ټوله نړۍ کې ښځو ته په سیاسي او ټولنیزو برخو کې د برخې او قدرت ورکولو ډېرې ښې ننداره ته وړاندې کېږي، خو په رښتنې ډول هغوی ته د قدرت او برخې ورکول د هغه څه په پرتله ډېر کم دي چې هغوی د خپل ځان او د ټولنې د نورو ښځو لپاره یو بنسټیز بدلون نه دی تر لاسه کړی. دا هغه بېلګې دي چې ښځو ته د برخې او قدرت ورکول ښیې:

- رواندا هېواد د خپلې کابینې نیمایې څوکۍ مېرمنو ته ځانګړې کړې دي.
- په ټیوپي کې یوه جنسیتي برابره کابینه تاسیس شوې ده.
- په اسلووني کې ښځې د نرانو په پرتله څلور برابره پر کار بوختې دي.
- نامیبیا د خبرپاڼې په برخه کې لوړ مقام تر لاسه کړی دی، ځکه د دغه هېواد نیمایې خبري پوستونه د ښځو په واسطه برابرېږي.
- په مالزیا کې د خبرونو او اطلاعاتو راټولولو نیمایې متخصصانې ښځې دي.
- په نیوزیلنډ کې د طب په هرو ۱۰ څېړونکو کې شپږ یې ښځې دي.
- په عمان کې له هرو ۱۰ انجینیرانو پنځه یې ښځې دي.
- په فرانسه کې له هرو ۱۰ قاضیانو شپږ یې ښځې دي.
- په لیتوانیا او رومانیا کې له هرو ۱۰ قاضیانو اووه یې مېرمنې دي.

لیکوال د ښځو دغو ټولو ظاهري لاسته راوړنو ته په کتو داسي څرګندوي: «هغه څه چي اوس روان دي او هيله يې کېږي، د ښځو حقونو ته پام نه کېږي، په ځانګړي ډول د نر او ښځي برابرۍ په اړه. د بېلګې په توګه: هغه ښځې چې نرانو ته ورته دندې تر سره کوي، د نرانو په پرتله لږ معاش تر لاسه کوي. هو، دا واقعيت شته دی، حتا که ښځې د نرانو ته ورته تجربې څخه برخمنې هم وي، لږ معاش تر لاسه کوي. دغه بېلګې د ښځو د تجریبو نښې دي. هغه لوړ پوستونه چې په اسلامی نړۍ کې ښځو تر لاسه کړي، بيانوو:

۱. بینظیر بوټو: بوټو د پاکستان یوولسمه لومړۍ وزيره او د اسلامي نړۍ په تاريخ کې لومړۍ مېرمن ده چې په یو اسلامي هېواد کې د لومړۍ وزيرۍ مقام ته ورسېده. نوموړې له ۱۹۸۸ بيا تر ۱۹۹۰ او له ۱۹۹۳ تر ۱۹۹۶ پورې د پاکستان لومړۍ وزيره وه.
۲. مګاواتي سوکارنوپوتري: سوکارنوپوتري له ۲۰۰۱ څخه بيا تر ۲۰۰۴ م کال پورې د اندونزيا ولسمشره وه.
۳. شيخ حسنيه: نوموړې له ۱۹۹۶ م بيا تر ۲۰۰۱ او له ۲۰۰۹ م کال بيا تر اوسه د بنګلادېش لومړۍ وزير ده.
۴. خالده ضيا: نوموړې د بنګله دېش په تاريخ کې لومړۍ ښځينه وزيره او د اسلام په تاريخ کې له بينظير بوټو وروسته دويمه ښځه ده چې يو ډيموکراټ دولت رهبري کوي. دغه مېرمن له ۱۹۹۱ بيا تر ۱۹۹۶ م پورې او بيا له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۶ پورې د بنګله دېش لومړۍ وزيره وه.
۵. عاطفه يحيي اغا: د کوزوو ټاکل شوې ولسمشره، نوموړې په مډرن بالکان کې لومړۍ او ځوانه ولسمشره ده.
۶. تانسو چيلر له ۱۹۹۳ څخه بيا تر ۱۹۹۶ م کال پورې په ترکيه کې د لومړۍ وزير په توګه دنده تر سره کړې ده.
۷. مامه ماديور بويه: نوموړې له ۲۰۰۱ م څخه تر ۲۰۰۲ م پورې د سنګال لومړۍ وزيره وه.
۸. اميناتا توره: نوموړې له بويه څخه وروسته له ۲۰۱۳ م تر ۲۰۱۴ م کال پورې د سنګال د لومړۍ وزيرۍ مقام تر لاسه کړ.
۹. سيسي مريم کيداما سيديبه: دغې پروفيسورې او سياستوالې مېرمنې له ۲۰۱۱ بيا تر ۲۰۱۲ پورې د مالي هېواد د لومړۍ وزير مقام تر لاسه کړ.
۱۰. امنيه غريب فکيم: په موريس کې ولسمشره او د ځواکونو عالی سرقومندانه وه.

په دغو ټاکنو کې په اړوندو هېوادونو کې د ښځو په اقتصادي، امنيتي، ټولنيزو او حقوقي حالت کې هېڅ بنسټيز بدلون نه دی ليدل شوی. په حقيقت کې ټول شواهد د ښځو د امنيت او حقونو بېساري راټيټېدل په ګوته کوي. دغه واقعيت د يو ساده تصادف او يا د اسلامي قوانينو پلي کېدو پايلې په توګه نه شو ردولی، چې د ښځو ټولنيز خوځښتونه محدودوي؛ ځکه ټول د ډيموکراټيکو ليبرال جوړښتونو تر چتر لاندې شتون لري، چې د شرعي قوانينو پر ځای سېکولر قوانين وړاندې کوي.

حقيقت دا دی چې دغه ټولې ښځې د پانګوالي نظام تر سيوري لاندې چې يوازې د ګوتو په شمېر ارزښتونو او ګټو ساتنه کوي، کار او فعالت کوي او همداراز پانګوالي نظام له يادو مېرمنو د ساتيرې د يوې الې په توګه او په مستعمره هېوادونو کې هم د ساتيرې د يوې الې په توګه ګټه اخلي. هېڅ يوه ښځه د اسلام قوانينو پلي کېدو ته ژمنې نه ده، چې د هر کس ګټې خوندي کوي. نو يادې مېرمنې له الهي قوانينو څخه په مخ اړولو سره د بشر په لاس جوړو شوو او منحطو قوانينو غلامانې او خدمتګاران کېږي.

يوې بلې مطالعې هم ثابته کړې چې سېکولر ليبرال قوانين د ښځو حقونه تر پښو لاندې کوي. د بي بي سي د يو راپور په ترڅ کې چې د ۲۰۱۸ م کال د ډيسمبر په مياشت کې «قومي اقليتونه د خپلو سپين پوستو همکارانو په پرتله لږ معاش تر لاسه کوي» خپور شوی دی. دغه مطالعې له هغه وروسته تر سره کېږي چې قومي اقليت ښځو څرګنده کړه چې هغوی د خپلو سپين پوستو همکارانو په پرتله لږ معاش تر لاسه کوي. همدارنګه يوې تور پوستې مېرمنې وويل: «دغه حالت د دغه لامل شوی چې د بې ارزښتی احساس وکړم... داسې احساس کوم چې د نورو غوندې د مبارزې په حال کې يم، خو زما په لاره کې سل خنډونه شتون لري. نو پر همدغه بنسټ، دغه مبارزه عادلانه نه ده.»

هو، په مدرن وخت کې په پرمختللو ډیموکراټیکو هېوادونو کې د میلیونونو ښځو همدا حالت دی چې دا ډول احساس کوي!
پر همدغه اساس دغه راپور د کارکوونکو د حقونو کچه په دغه ډول ښیي: د سپین پوستو کارکوونکو معاش۵۲ زره پونډه، د تور پوستو تحصیل کړو کارکوونکو معاش ۳۸ زره پونډه او د عرب نژاده کارکوونکو معاش ۳۷ زره پونډه دی. نو دغه شمېرې دا مانا ورکوي چې تور پوستي تحصیل کړي او عرب نژادي د انګلیس په مشهورو پوهنتونو کې د سپین پوستو په پرتله د ۲۶ سلنې په کچه لږ حقونه تر لاسه کوي.

حتی د زده کړو لرونکو ښځو حالت تر نارینه وو ناوړه دی، ځکه هغوی نه یوازې له قومي تبعیض سره مخ دي، بلکې له جنسیتي تبعیض سره هم مخې دي. نژاد پرستي او قوم پرستي د پانګوالي نظام برخه ده، خو په اغلب ګمان د نوم لیکنې په غوښتنلیکونو کې د قومي اقلیتونو او ښځو لپاره د برابرو فرصتونو غوښتنه کوي؛ خو په حقیقت کې د خپلو پانګوالي شرکتونو د ډېرې ګټې لپاره د هغه څه خلاف  عمل کوي چې ادعا یې کوي. ښځې هم د خپلې دندې د مسولیت له امله واده نه کوي او د سوداګریزو شرکتونو په ګټه کار کوي. په اوسني MeToo جنبش کې چې د ښځو د جنسي ځورونې د چوپېتا ماتېدو په موخه جوړ شوي، موږ وینو چې پانګې، زده کړو او د ښځو سیاسي قدرت په کار ځایونو او کورونو کې د هغوی امنیت نه دی ټینګ کړی. پر همدغه نبسټ، ښځې تل د لیبرال تر ارزښتونو لاندې له جنسي او روحي ځورونې سره مخ کېږي، ځکه نارینه په دغه فاسد نظام کې له خپلو شخصي ازادیو څخه د خوند اخیستلو په فکر کې دي او له ښځو څخه ناوړه ګټه اخلي.

د ښځو د پرمختګ لپاره رښتینې لاره، د ډیموکراټیک لیبرال ارزښتونو د دروغجنو ازادیو پېژندنه ده، چې خلکو ته په ځانګړي ډول ښځو ته د دوکې ورکولو لپاره کارول کېږي، ځکه دغه دروغجنې ازادۍ ښځو ته په دغه وینا سره چې سیاسي قدرت لرئ، هغوی ته دوکه ورکوي. په داسې حال کې چې دغه ارزښتونه په هغه دام کې د ښځو ښکېلول دي چې هېڅ خپلو رښتیني حقونه تر لاسه نه کړي. همدارنګه له اسلام څخه د دفاع لپاه د یوې وسلې په توګه ګټه اخلي، څرنګه چې هغوی ویل کېږي: «حتا که ستونزه وي، د مسلمانو ښځو په پرتله خو له ستونزو څخه نه ځورېږئ.»

نو پر همدغه بنسټ، هغه وخت رارسېدلی چې ښځې راوېښې شي او حقیقت ولټوي، ځکه په لږ پرمختګ سربېره، هغو خپل هغه رښتیني مقام ته نه دي رسېدلې، چې عبارت له هغه پت او عزت څخه دی چې الله سبحانه وتعالی ورکړی. ځکه د اسلامي دولت تر چتر لاندې لازمه نه ده چې ښځه د دولت رییسه شي، تر څو ډېر درناوی ورته وشي. همدارنګه اجازه نشته چې د ابزارو په توګه په تبلیغاتو کې څرګنده شي، مېزمنې اړې نه دي چې د کار او دندې لپاره واده وکړي او همدارنګه د هغې تبلیغاتي دروغجنې ښکلا څخه ځورېدو ته اړې نه دي، چې د محصولاتو د پلور لپاره کارول کېږي.

د اسلامي خلافت په وخت کې د نړۍ لومړی پوهنتون «القرويين» یوې مسلمانې ښځې د محمد الفهري القريشي لور فاطمې په مراکش کې تاسیس کړ؛ په داسې حال کې چې د نورو ملتونو په څېر هغه وخت د ښځو کوم جنبش د دوی د حقونو خوندیتوب لپاره شتون نه درلود؛ بلکې سلګونه کلونه وړاندې مخکې تر دې چې د ډیموکراټ لیبرال قوانینو تر چتر لاندې اوسني مدرنې ښځې هغه تر لاسه کړي، مسلمانو ښځو سیاسي ګډون او اقتصادي خپلواکي درلوده. الله سبحانه وتعالی د ځانګړو اسلامي قوانینو پر مټ د انسانانو له هر ډول سوداګریزې او سیاسي لاسوهنې پرته د ښځې د عزت او کرامت ساتنه کوي.

**﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾**

[حجرات: 13]

***ژباړه:*** *له تاسو څخه د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې هغه څوک غوره دی چې تقوا ولري.*

*همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي:*

**﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴾**

[نحل: 97]

ژباړه: هر څوک چې ښه کار تر سره کړي، هغه که نر وي یا ښځه، په داسې حال کې چې مومن دی، هغه ته سپڅلی ژوند ورکوم او د هغو غوره عملو تر سره کولو اجر ورکوم چې تر سره کړې یې وي.

هو، دا د اسلامي خاورو منحط او خاین حکام دي چې د الله سبحانه وتعالی د قول خلاف عمل کوي، ځکه هغوی د غربي هېوادونو په چوپړ کې دي چې دغه هېوادونه له اسلامي خاورو څخه د فاسد پانګوالي نظام د برنامو پر مخ وړلو لپاره ګټه اخلي. نو پر همدغه اساس یوازې د یو صادق حاکم په بیا راتګ سره یعنې داسې خلیفه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوندې عمل وکړي، ښځې له هر ډول ظلم څخه ژغورل کېږي.

تر اوسه د دغه فاسد نظام تر سیوري لاندې د ښځو د حالت په اړه د لورا جونز نقد او څېړنه د واقعیت اړونده ده، څنګه چې نوموړې لیکي: «پوهېږو چې ډېرې ښځې په نمایشي ډول د ښځو د قدرت غوښتنه کوي، خو ټولو ته څرګنده ده چې د ښځو دغې کړنې ډېر کم بدلونونه رامنځته کړي دي.»

**لیکوال: عمرانه محمد**
**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفترې غړې**
**۱۴۴۰ د بیع الثاني ۱مه**
**۲۰۱۸ د ډیسمبر ۱۷مه**
**ژباړه: بهیر «ویاړ»**